﴿ ۸ ﴾

# د پخوانو نومونو خپل ځانګړي ډولونه

د هیواد د کلتور (ژواك) په ساتنه او ژغورنه کې اوس د هر ځای خلك او خیني نړیوال (بین المللي) بنداړونه هم ډېر سپارښتونه کوي او غواړي چي د هر اولس خپلي بیلي کلتوري ګټوري ښېګني وساتلی سي او هغه د انسانتوب د ګډ کلتور په مشترکه پانګه کي خوندي سي.

د پوهني او ژواك نړیوالي ټولني (یونسکو) په خاصه توګه آسیایي اولسونو ته دا سپارښتونه کړي دي، چي د خپل ژواك (کلتور) ګټور توکي په ښه ډول ژوندي وساتي او د لوښښت او پرورښت لپاره یې خپل زیار ونه سپموي.

زموږ د پخواني کلتور او ژبنیو پانګو څخه راپاته سوي مواد د ځایو او ښارو او کلیو پخواني نومونه دي چي د هیواد د تاریخ په پړاوونو کي یې ډول ــ ډول یوناني، ترکي او عربي شکلونه موندلي او په بل ډول وراوښتي دي.

د تاریخ او جغرافیا په زړو کتابو کي هم دغه نومونه یو راز نه دي، بلکي د لیکوالو د ژبي د رواج او قاعدو سره سم کښل سوي، او کله کله له شناخته هم وتلي دي. نو اوس زموږ لیکوالو او څېړونکو ته دا په کار ده، چي د زاړه کلتور دغه راپاته سوي مواد پر اصیل شکل باندي سم

وساتي، او هغسي يې وليکي چي پخوا بلل کېدل، يا يې اوس خلك څنگه بولي.

مثلاً د پښتون نوم په ويد او هندي آثارو کي پکهت، او په يوناني کي پکت ، پکتويس، او د دوى هيواد پکتيکا راغلي دي، خو اصل او اوسنى تلفظ يې پختو او پختيا ده.

هنديان تر اوسه هم د (ښ ــ خ) تلفظ (کهـ) کوي، خان ته کهان وايي، د خانپور نوم په هند کي کانپور سوئ دئ. يونانيان چي ۲۳ سوه کاله پخوا له اسکندره سره آريانا ته راغلل، دوى د (ښ يا خ) مخرج په خپله ژبه کي نه لاره نو يې باختر بکتر يا پختيا، پکتيا وبلل او پښتون خوا يې پکتيکا کړه.

عربو د خپلو فتوحاتو سره ديرلس سوه کاله دمخه ډېر زموږ مقامي نومونه معرب کړل، مثلاً گرمسېر يې جروم، او سرد سېر يې صدود او سکستان يې سجستان او سمنگان يې سمنجان او گوزگان يې جوزجان او غرستان يې غرجستان او گرزبوان يې جرزبوان کړل.

نو اوس چي موږ بېرته د خپل فرهنگ زاړه مواد را ژوندي کوو، ښايي چي د پخوانو کلماتو اصالت هم وساتو موږ خو د يونان بکتر يا غوره نکړه او خپل مقامي شکل باختر مو واخيست او د پکتين پر ځاى پښتون وايو، نو د پختيا پر ځاى بيا پکتيا ولي اخلو؟ دا خو د عامي قاعدې څخه وتنگ دئ.

تاسي وگورئ ! د پښتو قديمه کلمه (غر) چي تر اوسه پوري لا هم ژوندۍ ده، له سديو ــ سديو څخه راهيسته د ځايو، سرېو او قبيلو په نومو کي ريښه لري، دا کلمه په سنسکريت کي گيري او ... رغوني پارسو کي (گر) وه، په خورده او اوستا او هوم يشت کي هم گيري راغلي



ده، او دوني زړه کلمه ده چي په بابلي او آشوري ورکو ژبو کي لا هم گر . د غره په معنى، څلور زره کاله تر ميلاد دمخه په سومري الفبا کي يوه خاصه علامه او ښه لري چي لومړى يې د غره معنا درلوده بيا وروسته له دې جهته چي د سومريانو ټاټوبى غرنى وُ، نو تعميماً گرد مملکت په مفهوم هم مستعمل و. ( د لندن روزگار نو مجله) لکه دوه چي اصلاً غر و بيا نو د مملکت نوم سو.

په افغانستان کي د غور، غرچه، غلچه، غلجي، گرديز، گريش نومونه د دې کلمې د مختلفو شکلونو ريښې لري او د مملکت يوه خورا مشهوره برخه هم غرستان و، چي عربي جغرافيا ليکونکو او مورُخانو دغه کلمه په عربي کړې شکل غرجستان يا غرشستان يا غرج الشار ور اړولې او بيا نو فارسي ليکوالو هم غرجستان کښلى دئ.

دا خو د عربي ژبې درنه کلتوري اغيزه وه چي د پښتو په قديمه شاعري کي هم جروم او غرج چي د گرم سير او غر معرب شکلونه دي د امير کروړ جهان پهلوان په وياړنه کي د (۱۴۰ ق حدود) استعمال ...

او اوس هم موږ د غرستان پر ځاى معرب غرجستان ليکو، خو اصله خبره دا ده چي غرستان د خراسان يو پخوانى ولايت و، چي لوېديځ ته يې هرات او مرو رود، او ختيځ ته يې غور پروت و، مقدسي او ياقوت عربي جغرافيا پوهاندان وايي چي غرج يا غرش غرته وايي او د دغه ځاى پاچا هم غرج الشار يا ملك الغرجه بلل کېدئ، البشاري هم وايي چي غرج الشار د جبال الملك معنى لري. ياقوت د عرب شاعر بحترى دغه بيت د مثال په توگه راوړى دئ :

بالغرش او بالغور من رهطه
اروم مجد ساندتها الفروع

هغه مؤلفان چي د دې سيمي وو، او نومونه يې په خپل اصلي دول له خلگو څخه اورېدلي وو، کله کله د کلماتو اصلي بڼي ساتي، مثلاً منهاج سراج جوزجاني چي پخپله د افغانستان سړى او دلته گرزېدلئ و، نو ده پخپل کتاب طبقات ناصري کي د غرستان نوم هغه راز چي اورېدلى و ليکلى دئ، او عربي سوى غرجستان نه ليکي.

منهاج سراج هره غرنى سيمه هم غرستان بولي، په طبقات کي وايي :

"تا اورا در حدود سمرقند و قصبه کيکرب که غرستان و کوهپايه سمرقند است بگرفت ..." وگورئ دلته غرستان د کوهپايه معنى لري او دغه شکل يې په عربي کتابو کي هم پاته سوبدئ چي لى ، ستربنج يې پخپل کتاب (د خلافت شرقي سيمي) کي هم رانقل کوي، او د هرات مؤرخ سيفي هروي يې هم په تاريخنامهٔ هرات کي مکرراً غرستان ليکي.

پر ځينو نومو باندي زموږ ميرزايان او ليکوال هم ظلم کوي، او د قديم کلتور نخښي ورانوي، لکه لغمان چي لمقان يا پغمان چي پمقان ليکي، د قندهار تيرى مکرراً په تاريخنامهٔ هرات کي په دغه ملفوظ شکل ضبط سوئ دئ.

خو ميرزا صاحب يې خامخا تيرين کاږي او روزگان له اوسني ملفوظه شکله اړوي، ارزگان ځني جوړوي. سپېروان پښتو نوم ضرور سفيد روان کوي، او توریاس هم خامخا طره باز کوي، چي هيڅ معنا نه لري.

په سراج التواريخ کي تاريخي نوم اجرستان يا وجيرستان چي په تاري کتابو کي راغلئ دئ، د حجرستان په بڼه معرب سوبدئ، چي کورټ داسي نه دئ او له شناخته ايستل سوئ دئ. په کلو کلو ميرزايانو او کاتبانو دغسي نومونه او تاريخي کلتوري مواد داسي مسخ کړي او پر بل



مخ را اړولي دي چي له پېژندني وتلي دي. نو کلتوري مقامات يا د تاريخ او جغرافيا پلټونکي بايد د ميرزايانو او معربانو پر نوشتو اکتفاء ونه کړي او وگوري :

(۱) که د يوه ځاى يا سړي نوم د افغانستان په تاريخي زړو آثارو کي ضبط وي د هغه مقامي او اصيل شکل دي وساتل سي لکه :

د سجستان پر ځاى سيستان يا سکستان.

د بقلان پر ځاى بغلان

د فروان پر ځاى پروان

(۲) که د يوه ځاى نوم په پخوانو آثارو کي مونده نه سي، نو دي د خلکو اوسنى تلفظ معتبر وگڼل سي لکه :

د قلات پر ځاى کلات

د حجرستان پر اجرستان يا وجيرستان

د پمقان پر ځاى پغمان

د على شنگ پر ځاى اليشنگ

د طور خم پر ځاى تورخم

د طور غندى پر ځاى توره غوندى

د کوتل تيره پر ځاى تيره کوتل ... او نور ...

تاريخي نومونه يو ډېر وير لرلى داستان لري، يو وخت عربي فاتحان راغلل په خراسان کي يې يو ښار وليد چي خلکو پنجده باله. دوى ژر (پ) په (ف) بدله کړه فجده او فجنديهي ځني جوړ کړل. په دې يې لا زړه نسو سوړ، وروسته يې خمس قري عربي ترجمه نوم پر کښېښود او منسوبات يې خمقري وبلل. اوي به نو که موږ د عربو د رجالو په کتابو او انسابو کي د پنجده مشاهير وڅارو بايد د فنجدهي يا خمقري تر

عنوان لاندې وګورو، خو په تاريخ او جغرافيا کې که دغه ليکو، بناسي چې اصيل نوم يې پنجده و کاږو، نه فنجده نه خمس قرى، چې منسوب يې هم پنجدهی دئ، نه فنجدهي نه خمقرى.

د کندهار غربي جنوبي خواته مشهور ځاى پنج وايي دئ، چې تر اوسه په همدغه نامه ودان پاته دئ، په عربي جغرافي کتابو کې دا ځاى پنجواى سو ... روسته ميرزايانو هندى رنګ ورکى پنجبايي (پنجبهايي) يې ... چې اوس يې بايد حتماً د قديم کلتور د ساتني لپاره بيرته تصحيح کړو او پنجوايي اوسنى ملفوظ شکل يې غوره سي.

... قديم تاريخي ځاى شاپلان خو اول شاه فلان سو، بيا د خلکو ورته فکر سو هغه يې شافلان وليکلى چې د حافظ ابرو په جغرافيه او په مطلع سعدين او اکثرو تاريخي کتابونو کې راغلى دئ.

بيا نو بل چا دغه شکل هم نکى خوښ او پښتو تولني ته يې وليکل چې توى نوم پر کښيږدي، دې تولني ورته وليکل چې "بنام پښتو _ زرغون ناميده شود" هغو دغه مکتوب هم په غور ونه لوست او پښتون زرغون يې وباله او د دغه ځاى تاريخي اصليت ورك سو. که اوس وغواړو چې په هرات کې تاريخي شاپلان _ شافلان پيدا کړو نه يې سو موندلاى.

دغه داستان اوږد او کله هم د تاسف وړ دئ، ما دلته يو څو مثالونه تاسي ته وراندي کړل. (۱)

والسلام على تابع الهدى !

(۱) هنر مجله، ۱۳۶۰ ل کال، لومړى او دوهمه ګڼه، ۳ _ ۴ مخونه.